ډاکټر مرادزئ ۲۰۰۹/۰٤/۲٤م

د کرزي لومړنۍ ملي ګوزار د ملاتړ وړ دئ

د بن کنفرانس روسته چې په کې د افغانستان د چارو واکمني کرزي ته وسپارل شوه ، دا لومړئ ځل دئ چې کرزئ د خپلې واکمنۍ په دې اوو کالو کې یو ملي ګام پورته کوي . د غوايي په ۴ مه ، رسنیو ته د ولسمشر د ویاند مرستیال ښاغلي حامد علمي په ډاګه کړه چې سږ به د غوايي اتمه نه لمانځل کیږي او لګت به یې په شیرزادو ولسوالۍ کې زلزلې ځپلو او په بدخشان کې چاپېریال او باران ځپلو ته ورکول کیږي .
د مشرانو جرګه هم په لومړي ځل ډکه خوري ، له خپل اوږده خوبه ناڅاپي ویښیږي او دا پریکړه د وخت له ځنډه پرته تاییدوي .
خو ولسي جرګه چې باید د ولسي ښېګڼو او ملي ګټو د پالنې او ساتنې ځای وي ، د چلوټو او ملي ضد ګټو په ګرداو کې ډوبه ده او د هیڅ ډول ملي غبرګون هیله ترې نه شي کېدلئ .
د حفیظ منصور په نوم چې د رباني جمعیت ډلې پورې تړاو لري ، د خپل تنظیم په استازیتوب ، ددې پریکړې بد وايي او د علمي بلخي په نوم د اسلامي حرکت د ډلې استازئ د یوې بلې ملي ضد څېرې پتوګه بیا د جهاد په ټېکدارۍ ، دا پریکړه غندي .
خو پوښتنه دا ده ، د غوايي اتمه چې یو څه وخت د رباني د واکمنۍ په مهال او د بن کنفرانس روسته بیا د کرزي د واکمنۍ پر مهال هر کال لمانځل کېده ، ریښتیا په لمانځنه ارزي ؟
ریښتیا په دې ورځ ټول افغانان خوشحاله وي ؟ دا ورځ د ټولو افغانانو د جشن ورځ ده ؟
ایا ددې ورځې په پیل کېدو سره افغانان د سوکاله ژوند خاوندان او افغانستان د ابادۍ ، پرمختګ او سرلوړۍ په لور ګام پورته کړ ؟
یا په ټولیزه توګه د غوايي له اتمې روسته ، ایا افغانانو د ښې ورځ لېدلئ ؟
دا او په سلګونو نورې پوښتنې د دې توري ، کرغېړني او بدشګوني ورځ په اړوند ، د هر افغان په زړه کې ګرځي !
د غوايي په اتمه ، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د سولې تګلار شنډه شوه . ټولې هڅې او کوښښونه چې هغه مهال د سوله خوا ځواکونو او ملګرو ملتونو لخوا له ناورین څخه د افغانستان د ژغورون په موخه په پام کې وې ، په دې ورځ له خاورو سره خاورې شوې .
په دې ورځ د شمال ټلواله چې په شمال کې د څو غلو ، داړه مارو ، ډاکوانو او لوټمارو ډلو یوه ټولګه ده ، د هېواد او افغان ملت پر برخلیک واکمن شول . دوی چې د روسیې ، ایران او لویدیځ له پراخ ملاتړ څخه برخمن وو ، په درواغو او چلوټې سره د جهاد تر پوړنې لاندې پر کابل لکه ملخان راپریوتل . د جهاد نورې ډلې چې په پاکستان کې د تیارسۍ په حال کې ساتل شوې وې د کابل د نېولو په لور رامارش شوې !
دوی بېله دې چې د شمال ټلوالې پر نیتونو او تګلارو ځان خبر کړي ، د سیاسي برمته ډلو پتوګه د شمال ټلوالې لخوا د نېول شوې کابل په واک کې سره راولړل شوې .
اصلي واک د شمال ټلوالې سره و ، خو د مجاهدینو نورو ډلو ورته ددې واک د ساتلو پېره او ګزمه کوله .
د غوايي د اتمې جشن د شمال ټلوالې جشن و ، خو نورو مجاهدینو بیا په پردې جشن کې اتڼ کاوه او څنې غورځولې !
واک د نظار شورا او جمعیت ، مسعود او رباني سره و ؛ خو سیاف ، مجددي ، قدیر ، سیداحمد ګیلاني او نورو ورته هسې پر بریتونو او ږیرو لاسونه وهل .
د جهاد په استازیتوب د شمال ټلوالې لاپې او باتې وهلې او اوس یې هم وهي ، خو د مجاهدینو نورو ډلو ورته په بېوسې او خړو سترګو کتل او اوس هم ورته ګوري .
د جهاد په پېر کې توري په اصطالح لالا وهلې او مړۍ عبدالله . په دې ډول جهاد کې بیخ د پښتنو وویستل شو ، خو ګټه یې د شمال ټلوالې ، رباني او مسعود ته ورسېده .
میم زرما ټوله زما ، د جهاد هر څه توښه ، زیرمه ، واک د دویمو سقاویانو په لاس ورغئ ، خو پښتانه پکې د خپلو مجاهدینو د بې غورۍ ، ناپوهۍ او د ملي موخو څخه د بې خبرۍ په وجه ، وچې شونډې او له هر څه بې برخې پاتې شول .
په دې توګه ویلئ شو ، چې دا جهاد ، جهاد نه و ؛ یو جوړ فساد و . د پښتنو څخه د واک اخیستلو لپاره یوه سیاسي لوبه او دام و !
خو که ددغه ناورین بل مخ راواړوو ، د غوايي په اتمه د افغان ملت بیخ ووت .

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د غوايي په همدې اتمه ، د افغانانو پلازمېنه کابل لوټې لوټې شو . د افغانانو د واک ، برم او سرلوړی ځای په کنډوالو بدل شو .
ملي پوځ له اتمې روسته تس نس شو . د ملي اداري او دولت په نوم هر څه درې وړې شول .
د غلو او لوټمارانو دې شني غدۍ زمونږ د خلکو عزتونه او ناموسونه تر پښو لاندې کړل . کوڅه په کوڅه د افغانانو دوينو لښتې او ويالې وبهېدلې او د دوښمن زړه د افغانانو په ټولوژنه ښه يخ کړل شو . د دولت او وګړو شتمنۍ يې لوټ کړې . د هېواد تاريخي اثار ، موزيمونه ، ارشيف او نور يې غلا کړل . ښوونځي او پوهنتونونه يې وتړل ، د رڼا ډېوې يې پو کړې ، د تورتم وزرې يې په ټول ملک کې خپرې کړې او د وطن لوڼه يې په کورو کې کلابند کړې .
او بيا يې هر کال خپل کړې وحشتونه او جنايتونه ، افغانانو او نړيوالو ته د ننداري پټوګه په همدغه ورځ ښوول .
کرزي بايد ددغو درواغجنو مجاهدينو د وحشتونو د ننداري ورځ ، د غوايي اتمه لا ډېره پخوا اوه کاله دمخه تړلئ او رخصت کړئ وئ .
که کرزي د خپلې واکمنۍ په پېر کې دغسې ملي ګامونه اوچت کړئ وئ ، هيڅکله به د کرزي د واکمنۍ او افغان ملت تر منځ دغه موجوده واټن نه وئ رامنځ ته شوئ !
داچې د ټولټاکنو لپاره لنډ وخت پاتې دئ او کرزي د هغې پر وړاندې دغسې يو ملي اقدام وکړ ، که لامل يې هر څه وي ، د ملاتړ او ستاينې وړ دئ .
ښه به دا وي چې له ټولټاکنو له مخه ، کرزئ ځيني نور دغسې ملي ګامونه پورته کړي او د خپلې واکمنۍ په روستو کې ځانته يو څه د وړو پوزه کيږدي .
په دې ملي اقداماتو کې دا هم راتلئ شي چې يو څو جګړه مار ، جنګي مجرمين ، د نيشه يې توکو قاچاقبر او ملي خاينين په حضوري چمن کې پاڼسي کړي .
د شيرچور د جنتي مانيو چورواکان ، دا د غلا او لوټ واکمنان ، د دوبۍ د مرمرينو ودانيو سوداګر او خاوندان د قانون منګلوته راکش کړي او د ولس پر وړاندې يې رسوا او په سزا ورسوي .
نور درواغجن او د ملت پر وينو ککړ جشنونه ، زموږ په ټولنه کې ځای نه لري او سبرکال به افغانان د غوايي د اتمې د جشن پر نابودۍ جشن نيسي .

پای

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de